TRANSLATION DEPARTMENT

هفته واره رساله

(د اِمام غزالي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه د کتاب " منهاج العابدين " نه دريم قسط)

نجات ورکوونکي خبرې

د توکل پېدا کولو طريقه

د نِعمت د باقي ساتلو طريقه

د ځان خوښۍ عِلاج

د رشک قابل څوک دي؟

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى خَاتَمِ النَّبِيّٖن ط

اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ط

نجات ورکوونکې خبرې

دُعائے عطّار: یا الله پاکه! څوک چې دا رساله " نجات ورکوونکې خبرې " ولولي یا واوري د هغه د اِمامِ غزالي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په وسیله د خپلې اِصلاح توفیق نصیب کړې او هغه سره د مور او پلاره او خاندانه بے حسابه جَنَّت الفردوس ته داخِل کړې- اٰمِيْن بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

د دُرُود شریف فضیلت

د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: تاسو خپل مجلسونه په ما باندې په دُرُودِ پاک وئیلو سره ښائسته کړئ ځکه چې ستاسو په ما باندې دُرُودِ پاک لوستل به د قیامت په ورځ ستاسو د پاره نُور وي-

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

﴿1﴾ الله پاک ته " صابِر " وئیل څنګه؟

د الله پاک د پاره لفظ " صابِر " په دې معنیٰ سره وئیلے کېږي چې هغه د مجرمانو نه عذاب ودرولے دے او هغه په عذاب ورکولو کښې تادي نه کوي- (منهاج العابدین، ص123)

﴿2﴾ صبر خو د فردوس خزانه ده وروڼو!

کله چې ستاسو نه څۀ څيز فوت (يعنې ضائع) شي نو کوشش کوئ چې دوېم (يعنې صبر) درنه فوت نۀ شي- (منهاج العابدين، ص134)

﴿3﴾ د رَبُوبِيَّت او عُبودِيَّت معنىٰ

د يو بزرګ رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه نه پوښتنه اوکړے شوه چې عُبودِيَّت (يعنې بنده کېدل) څۀ دي او رَبُوبِيَّت (يعنې رَبّ کېدل) څۀ دي؟ هغوئ اِرشاد وفرمائيلو: رَبّ کېدل دا دي چې الله پاک چې څۀ غواړي حُکم اوکړي او بنده کېدل دا دي چې د هغه پۀ هر حُکم باندې راضي اوسي- (منهاج العابدين، ص133)

﴿4﴾ د تَوَکُّل پېدا کولو طريقه

الله پاک چې کله څۀ وخت ستاسو دُنيا يا رِزق بند کړي نو تاسو ووايئ! اے نفسه! الله پاک ستا د حال نه ستا نه زيات خبر دے او هغه پۀ تا باندې د ټولو نه زيات مهربانه هم دے، کله چې هغه سپي بلکې غېر مسلمه له د خپل دښمن کېدو باوجود رزق ورکوي [نو] زۀ خو د هغه بنده، هغه پېژندلو والا او هغه يو منونکے يم، آيا هغه به ما له يوه ډوډۍ هم نۀ شي راکولے؟ اے نفسه! پۀ ښه طريقه پوهه شه چې هغه د څۀ لوئي فائدې د پاره ستا رزق ودرولے دے او ډېر زر به الله پاک د تنګدستۍ نه پس اساني پېدا کړي بس لږ صبر اوکړه- (منهاج العابدين، ص138)

﴿5﴾ په مُصيبت باندې صَبر کول

اے په غمونو کښې قيد اِنسانه! (توجه اوکړه) کله چې په تا باندې ډېره تنګي وي نو په سورۀ اَلَمۡنَشۡرَح کښې غور اوکړه، ته به ووينې چې د يوې تنګۍ ذِکر د دوه اسانو ترمينځه دے کله چې ته دا بيا بيا لولې نو خوشحاله به شې- (منهاج العابدين، ص137)

﴿6﴾ د نفس د ګناهونو نه د منع کولو طريقه

نفس ډېر زيات د بدۍ حُکم کوي، د بدۍ طرف ته مائل کېږي او د فِتنو شوق لري، دے په ډېرو وېرولو ترهولو سره د دې (ګناهونو نه د ډکو) خبرو نه منع کېدے شي، په فِطري توګه دے داسې ازاد دے په کوم کښې چې نه حيَا شته او نه وفا- (منهاج العابدين، ص139)

﴿7﴾ رښتينے شوق

غم: د خوراک نه منع کول کوي- وېره: د ګناهونو نه منع کول کوي- اُمېد: د عبادتونو همت پېدا کوي او د مرګ ياد: د غېر ضروري خيزونه نه بے رغبته کول کوي- خوک چې خپل مطلوب او مقصود وپېژني د هغه د پاره کوشش کول اسانېږي، د چا چې څۀ خيز خوښ شي او د هغې د موندلو پوره شوق راوچت شي نو اِنسان د هغې د پاره هر مشقت برداشت کوي او د هر قِسمه تکليف هيڅ څۀ پروا نۀ کوي- (منهاج العابدين، ص140)

﴿8﴾ د جَنَّتي اِنسان صفتونه

مصيبت او تنکي برداشت کول هغه کس له نقصان نۀ ورکوي د چا ځائے چې جَنَّت الفردوس وي- تۀ به هغه (يعني د چا ځائے چې جَنَّت دے) پۀ غم کښې ډوب، وېرېدلے، ترهېدلے او پۀ زړو جامو کښې د جوماتونو طرف ته تلونکے ويني- (منهاج العابدين، ص141)

﴿9﴾ د جبريلِ امين عَلَيْهِ السَّلَام د الله پاک نه وېره

روايت دے چې صادِق او امين آقا، د دواړو جهانو داتا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم حضرت سَيِّدُنا جبريلِ امين عَلَيْهِ السَّلَام (د الله پاک د پټې فېصلې د وېرې نه) د کعبې معظمې پردو ته غاړه وتے پۀ ژړا او فرياد او پۀ دې دُعا وليدلو چې "يا الله! زما نوم مۀ بدلوې او زما وجود مۀ بدلوې-" (منهاج العابدين، ص146)

﴿10﴾ غمونه پۀ درې قِسمه دي

ځينو بزرګانو رَحِمَهُمُ اللهُ عَلَيْهِم فرمائيلي دي چې غمونه پۀ درې قِسمه دي: ﴿1﴾ د تابعداريَ او د نېکيَ غم چې کېدے شي هغه قبوله نۀ شي- ﴿2﴾ د ګناه او د مَعْصِيت غم چې کېدے شي وه نۀ بخښلے شي ﴿3﴾ مَعْرِفتِ اِلٰهي (يعني د الله پاک د پېژندنې) غم چې دا رانه وانۀ غستلے شي- (منهاج العابدين، ص155)

﴿11﴾ کله وېره او کله رَجا (يعني اُمّېد) پکار دے؟

که چرې تۀ پوښتنه اوکړې چې آيا پۀ يو مخصوص حالت کښې پۀ وېره او اُمېد کښې يو ته ترجيح کېدے شي؟ نو پوهه شه چې که اِنسان د صحت

او روغمنې پۀ حالت کښې وي نو " **وېره** " ډېره بهتره ده او که د بیماریٔ او کمزوریٔ پۀ حالت کښې وي" **اُمید** " بهتر دے، پۀ خاص توګه چې کله د اخرت پۀ سفر د روانېدو (یعنې د مرګ) وخت وي نو د الله پاک د رحمت اُمید غالب پکار دے- ما (یعنې اِمامِ غزالي رَحْمَۃُ اللهِ عَلَیْه) د علمائے کرامو نه داسې اورېدلي دي- وجه دا ده چې پۀ حدیثِ قُدسي کښې الله پاک اِرشاد فرمائیلے دے: " زۀ د هٰغه خلقو سره یم د کومو زړونه چې د الله پاک د وېرې نه مات شوي دي-" (حلیۃ الاولیاء، 4/34، قول نمبر: 4664)(منهاج العابدین، ص156)

﴿12﴾ پۀ الله پاک ښه ګمان

پۀ الله پاک د حُسنِ ظَن (یعنې ښه ګمان) مطلب دا دے چې د هغه د نافرمانیٔ نه ځان بچ کړے شي، د هغه د عذاب نه وېرېدلے شي او د هغه پۀ عبادت کښې ښه پوره کوشش اوکړے شي- (منهاج العابدین، ص156)

﴿13﴾ چې څنګه اُمید هٰغه شان عمل

تۀ د نجات اُمید لرې خو د هغې پۀ لارو باندې نۀ ځې، واوره چې کشتیٔ پۀ وچه باندې نۀ شي ګرځېدے- (منهاج العابدین، ص157)

﴿14﴾ دروغژن امید، دوکه او غفلت

پۀ عبادت کښې د محنت او د کوشش نه بغېر ښه ګمان نۀ دے بلکې دروغژن امید او دوکه او غفلت دے- د دې بنیادي خبرې نه عبرت حاصل

کړه، د نېکانو پۀ حالاتو باندې غور اوکړه او د غفلت نه ښه رابېدار شه او توفيق ورکوونکے خو هم الله پاک دے- (منهاج العابدين، ص157)

﴿15﴾ پۀ شوم او ريا کار باندې جَنَّت حرام دے

حضور نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائيلے دے چې: جَنَّت خبرې اوکړې او وه يې وئيل: " **زۀ پۀ هر شوم او ريا کار باندې حرام يم-**" (تاريخ ابن عساكر، 52/151، حديث: 6133)(منهاج العابدين، ص160)

﴿16﴾ د سورۀ واقعه برکتونه

د رزق پۀ معامله کښې د سختۍ او تنګۍ پۀ وخت د سورۀ واقعه د لوستلو پۀ حوالې د نبي اَکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم او صحابۀ کرامو رَضِيَ اللهُ عَنْهُم نه حديثونه او واقعې مروي دي، د دې پورې چې د وصال پۀ وخت چې کله حضرت سَيِّدُنا اِبنِ مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ پۀ دې خبره باندې ملامته کړے کېدلو چې تاسو د خپل اولاد د پاره هيڅ مال نۀ دے پرېښودے نو هغوئ اِرشاد وفرمائيلو: زۀ د هغوئ د پاره سورۀ واقِعه پرېږدم- (منهاج العابدين، ص165)

﴿17﴾ سورۀ واقعه قناعت پيدا کوي

اکثر به تۀ د سورۀ واقعه د لوستلو نه پس پۀ زړۀ کښې قناعت محسوسوې او کمزورې او د ډېر خوراک حِرص به هم ختم وينې د دې سره سره به پۀ ځان کښې دننه د خوراک څښاک بے نيازي هم محسوسېږي، چا چې د دې تجربه کړې وي هغه د دې خبرو نه ښه خبر دے- (منهاج العابدين، ص166)

﴿18﴾ د ځان خوښۍ علاج

د ځان خوښۍ حقیقت خپل نېک عمل لوئي ګڼل دي او د ځان خوښۍ ضد (یعنې اُلټا) اِحسان یادول دي او هغه داسې چې اِنسان وګڼي چې دا عمل د الله پاک پۀ توفیق سره شوے دے- (منهاج العابدین، ص167166)

﴿19﴾ آیا دا ښکاره نقصان نۀ دے؟

الله پاک اِرشاد فرمائي:

اَللّٰهُ الَّذِیْ خَلَقَ سَبْعَ سَمٰوٰتٍ وَّ مِنَ الْاَرْضِ مِثْلَهُنَّ ؕ یَتَنَزَّلُ الْاَمْرُ بَیْنَهُنَّ لِتَعْلَمُوْۤا اَنَّ اللّٰهَ عَلٰى كُلِّ شَیْءٍ قَدِیْرٌ ۙ۬

(پ28، سورۀ الطلاق:12)

[مفهوم] ترجمۀ کنزُ العِرفان: " الله هُم هغه دے چا چې اوؤه اسمانونه جوړ کړل او هُم د هغو برابر زمکې- حُکم د هغو ترمینځه نازلېږي د پاره د دې چې تاسو پوهه شئ چې الله پۀ هر څیز ډېر ښه قادِر دے-"

دلته الله پاک ګویا دا اِرشاد فرمائي چې اسمان او څۀ چې د دې ترمینځه دي ما جوړ کړي دي او پۀ دې کښې زما د کاریګرۍ بهترینې او ښې نمونې دي او ما ستا لیدل کافي ګڼلي دي د پاره د دې چې تا ته معلومه شي چې زۀ قادِر (یعنې قُدرت لرونکے) هم یم او عالِم (یعنې خبر) هم، او ستا حالت دا

دے چې د بې خيالو او عبېونو نه ډک صرف دوه رکعته کوې خو ته دا کافي نۀ ګڼې چې زۀ تا وينم، ستا د عمل نه خبر يم، ستا تعريف کووم او ستا عمل قبلووم بلکې ته غواړې چې خلق ستا د عمل نه خبر شي او د هغې پۀ وجه ستا تعريف اوکړي، آيا دا وفاداري ده؟ آيا دا عقلمندي ده؟ آيا څوک عقلمند دا د خپل ځان د پاره خوښوي؟ افسوس دے پۀ تا باندې! آيا تۀ نا پوهه يې؟

که چرې د يو ګس سره قيمتي کانے وي د کوم پۀ خرڅولو چې هغه يو لاکھ دِينار حاصلولے شي خو هغه دا پۀ يوه پېسه خرڅ کړي نو آيا دا ډېره لويه بې وقوفي او لوئي نقصان نۀ دے؟ ضرور دا د هغه د کم عقلۍ ثبوت دے- هم داسې د الله پاک رضا او خوشحالۍ او د ثواب پۀ مقابله کښې د بنده د خلقو د طرف نه د تعريف خواهش مند کېدل د لکونو درهمو بلکې دُنيا وما فِيها [يعنې دُنيا او څۀ چې پۀ دُنيا کښې دي] پۀ مقابله کښې د يوې پېسې د بې کاره کېدو نه هم زيات بې کاره کېدل دي- آيا دا ښکاره نقصان نۀ دے چې تۀ د داسې سپکو تعريفونو پۀ بدل د الله پاک د دربار نه د مېلاؤېدونکي نايابه عزت او کرامت نه خپل ځان محرومه کړې- (منهاج العابدين، ص169)

﴿20﴾ خلق د هيڅ څيز مالکان نۀ دي

د چا چې د خپل رَبّ سره د مېلاؤېدو اُمېد دے هغه د دې وېرې نه خالص عمل کوي- او خلق د هيڅ څيز مالکان نۀ دي بيا تۀ د هغوئي د پاره بې ځايه ځان ښودنه ولې کوې؟ (منهاج العابدين، ص171)

﴿21﴾ خراب او جاهِل اِنسان

ستا حیثیت دا دے‌چې که تهٔ د خپل ښار د سردار(د یو لوئے افسر پهٔ دفتر کښې د ملاقات دپاره) د داخلے اجازت وغواړې، نو هغه اکثراجازت نه درکوي؛ که د خپلې محلې د کوم لوئ کس (لکه ایم.پی.اے یا ایم.این.اےوغیره) سره خبرې کول وغواړې، نو اکثر هغه تا سره خبرې نه کوي؛ او که ته خپل بادشاه ته سجده هم وکړې، نو بیا هم اکثر هغه ستاسو طرفته ته توجو نه کوي!او الله پاک تا ته اجازت درکړے دے چې د هغه عبادت کوه، د هغه صفت او تعریف کوه، د هغه سره خبرې کوه، بلکې په پوره ازادۍ سره خپلې پریشانۍ ورته وړاندې کوه، خپل ضرورتونه ترې غواړه او په خپلو سختو معاملاتو کښې د هغه نه مدد غواړه.

بیا دا چې هغه ستاسو د کوتاهۍ سره په ادا شوو دوه رکعته نمانځه باندې هم راضي کیږي، بلکې په هغې داسې ډیرثوابونه درکوي چې انسان یې سوچ هم نه شي کولے؛ خو بیا هم ته په خپلو دغو دوو رکعتو په ځان خوښۍ کښې مبتلا یې، هغه ډېر لوئ څیز ګڼې او په دې معامله کښې د الله پاک احسان ته نه ګورې ؛ نو ته څومره بد خادم او څومره جاهل انسان یې؟!

او صرف د الله پاک نه د مدد درخواست دے او هم د هغهٔ پهٔ بارګاه کښې د دې جاهل نفس شکایت دے. (منهاج العابدین،ص174)

﴿23﴾ د الله پاک دپاره خالص دوه رکعته

کله چې پهٔ شپه کښې د دوو رکعتو کولو د پاره تهٔ ودرېږې نو تصور

اوکړه چې په دې شپه کښې د الله پاک د عبادت د پاره څومره خادمان د زمکې په مختلفو ګوټونو، ځنګلونو، سمندرونو، غرونو او ښارونو کښې ولاړ دي، په هغوئ کښې د اِستقامت والا، صِدِّيقين، د الله پاک نه وېرېدونکي، د الله پاک د ديدار شوق لرونکي، رياضت او مُجاهَده کوونکي، عاجزي کوونکي او د دُنيا نه بې رغبته خلق شامل دي- غور اوکړه چې دا وخت به د الله پاک په دربار کښې د الله پاک د وېرې نه لړزېدونکي زړونه، ژړېدونکې سترګې، اباد زړونه، پاکې سينې او صفا سوتره اندامونه څومره صفا سوتره او خالص عبادت او خدمت پېش کوي او پاتې شو ستا نـمونځ نو اګر چې تا به د هغې په ښه قِسم ادا کولو کښې د اِخلاص او پوخ والي سره خپل پوره کوشش کړے وي خو بيا هم د هٰغه شهنشاهِ اعظم (الله ربُّ العِزَّت) په دربار کښې د پېش کېدو لائق چرته دے او د هٰغه عبادتونو په مقابله کښې د دې څۀ حېثيت دے کوم چې هلته پېش کېږي، بدن په ګناهونو ککړ او نا پاکه وو او ژبه په فضول او د ګناه نه په ډکو خبرو باندې لړلے شوې وه بيا داسې نـمونځ د هغه په عالي شان دربار کښې د پېش کېدو جوګه چرته وو او په دې کښې چرته دا صلاحيت وو چې دا د ربُّ العِزَّت په دربار کښې نذرانه کړے شي؟ (منهاج العابدين، ص175)

﴿23﴾ آيا چرې مو داسې کوشش کړے؟

(اِمامِ غزالي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي چې) زمونږه شېخ فرمائيلي دي: اے نادانه! غور اوکړه! آيا تا چرته د خپل يو نـمونځ د اسمان طرف ته په لېږلو کښې

داسې کوشش کړے لکه څنګه چې تهٔ د مالدارو کور ته پهٔ خوراک لپرلو کښې کوې؟ (منهاج العابدین، ص175)

﴿24﴾ سراسر خطا یم، د کرم نظر اوکړې

حضرت سَیِّدُنا عطا سُلمي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ډېره مضبوطه او ښکلي یوه کېړه وه پېللله او تیاره یې کړه، بیا یې هغه راواخستله او بازار ته یې یورله او یو کېړو خرڅوونکي ته یې وښودله خو هغه یې قیمت ډېر کم ولګولو او وه یې وئیل: پهٔ دې کښې خو دا دا عېبونه دي- هغوئي کېړه راوخستله او کېناستو او ډېر زیات یې وژړل، دکاندار پهٔ خپلو کړو ستومانه شو، هغه بخښنه وغوښتله او د هغوئي پهٔ خوښه د کېړې قیمت ورکولو ته تیار شو- هغوئي وفرمائیل: خبره هٰغه نهٔ ده کوم چې تهٔ ګمان کوي ، دا زما پېشه ده او ما د دې کېړې پهٔ تیارولو د دې پهٔ ښکلا او مضبوطیا کښې خپل پوره کوشش اوکړو د دې پورې چې پهٔ دې کښې څهٔ عېب پهٔ نظر رانغلو بیا چې کله ما پهٔ عېبونو پوهېدونکي پوهه ګس ته دا وښودله نو هغه پهٔ دې کښې هٰغه عېبونه وښودل د کومو نه چې زهٔ خبر نهٔ ووم نو بیا چې کله سبا رَبُّ الْعٰلَمِین ته زمونږه اعمال پېش کولے کېږي نو پهٔ هغې کښې به څومره عېبونه او بې خیالۍ ظاهریږي د کومو نه چې نن مونږ خبر نهٔ یو- (منهاج العابدین، ص177176)

﴿25﴾ د مقبول عمل ثواب

د عظیم تابعي بزرګ حضرت سَیِّدُنا اِمام نَخعي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه نه پوښتنه اوکړے شوه چې د فلانکي فلانکي عمل ثواب څومره دے؟ هغوئي

وفرمائيل: عمل چې کله قبول شي نو د هغې ثواب شمېرلے کېدے نۀ شي- (منهاج العابدين، ص177)

﴿26﴾ د رابعه بصريه رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْها اِخلاص

حضرت بي بي رابعه بصريه رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْها فرمائي: زما چې کوم عمل هم ښکاره شي زۀ هغه پۀ هيڅ حِساب کښې نۀ راولم- (منهاج العابدين، ص180)

﴿27﴾ نفس پۀ عبادت باندې عادت کړئ

حضرت استاد اَبُو الفَضل رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه به فرمائيل: ما ته پته ده چې زما عبادتونه قبول نۀ دي- د هغوئي نه چې د دې د وجې پوښتنه اوکړے شوه نو وه يې فرمائيل: ما ته پته ده چې د قبلېدو د پاره عمل د کومو څيزونو محتاج دے او د دې نه هم خبر يم چې زۀ هغه څيزونه نۀ ادا کووم نو داسې ما ته پته لګي چې زما عبادتونه قبول نۀ دي- عرض اوکړے شو چې تاسو بيا عبادات ولې کوئ؟ ارشاد يې وفرمائيلو: پۀ دې اُمېد چې يوه ورځ به الله پاک زما اِصلاح اوکړي نو نفس به دنېکئ عادت شوي وي نو بيا به زما نفس د عبادت طرف ته راګرځول نۀ غواړي- دا حال د هغه خلقو دے کومو چې به پۀ عبادت کښې ډېر محنت او مشقت کولو- (منهاج العابدين، ص180)

﴿28﴾ د ټولو نه لويه تحفه

د عبادت نه د فراغېدو پۀ وخت چې پۀ زړۀ کښې د هغه (يعني د الله پاک د توفيق او اِحسان) بيا بيا ذِکر کوې او د الله پاک نه مدد غواړې نو دا طريقه به تا د رياکارئ او ځان خوښئ نه لرې کړي، تا به خالص د الله پاک

د پاره عبادت کولو ته راغب کوي او پۀ ټولو حالاتو کښې به پۀ تا د الله پاک پۀ اِحسان یادولو کښې مصروف ساتي- داسې به ستا داسې مقبول عبادتونه نصیب کېږي چې هیڅ خرابي به پکښې نۀ وي او فرض کړه که چرې داسې عبادت پۀ ژوند کښې یو ځل هم حاصل شي او بیا هم چرې هم حاصل نۀ شي نو بے شکه پۀ اصل کښې هم دغه لوئي عبادت دے- زما قَسَم دے! اګر که د داسې عبادتونو شمېره کمه هم وي خو د دې قدر او قیمت ډېر لوئي او فائده یې ډېره زیاته او انجام یې ډېر ښه دے- داسې توفیق ډېر کم نصیب کېږي او د دې څیز سره پۀ اِنسان باندې د الله پاک فضل ډېر لوئي دے- **اوس ووایه چې د دې تحفې نه لویه تحفه کومه کېدے شي کومه چې د ټولو جهانونو رَبّ قبوله کړي-** (منهاج العابدین، ص186)

﴿29﴾ شُکر څۀ دے؟

د بنده د طرف نه شُکر داسې تعظیم دے کوم چې هغه د ځان سره د اِحسان کوونکي د بې ادبی نه منع کوي او (پۀ بنده کښې) دا حالت د اِحسان کوونکي د اِحسان د یادولو او د نا شُکري کوونکي د نا شُکرۍ د وجې نه د هغه د بد حال یادولو نه پیدا کېږي- (منهاج العابدین، ص189)

﴿30﴾ د یوې دِیني مسئلې خوند

الله پاک چې کوم خلق د څۀ دِیني نِعمت عِلم یا عمل سره خاص کړي پۀ حقیقت کښې هم هٰغه خلق د دې نِعمت پۀ قدر او قیمت پوهېدونکي، د دې ډېر تعظیم کوونکي، او د ټولو نه زیات د دې شُکر ادا کوونکي وي،

ځينې خلق الله پاک د دې نه محرومه ساتلې نو دا يې هغوئ د تقدير مطابق د نِعمت نه د هغوئ پۀ بې پرواهۍ او تعظيم کښې د بې خيالۍ پۀ وجه محرومه ساتلې بيا که چرې د عِلم او عبادت تعظيم د عوامو او بازاري خلقو پۀ زړونو کښې هم هٰغه شان وے لکه څنګه چې د عالمانو او عبادت ګزارو پۀ زړونو کښې دے نو هغوئ به چرې هم بازارونو له ترجيح نۀ ورکوله بلکې بازارونه پرېښودل به هغوئ ته اسانېدل- آيا تۀ نۀ وينې چې کله يو فَقِيه (عالِم) يوه داسې مسئله واضحه کوي کومه چې مخکښې د هغه د پاره واضحه نۀ وي نو د هغه زړۀ څنګه د خوشحالۍ نه پۀ هوا وي او سرور څومره زياتېږي، د هغه پۀ زړۀ کښې د دې قدر او قيمت دومره زيات شي چې که هغه له پۀ لکونو دِيناروونه هم ورکړے شوے وے نو هغه به دومره نۀ خوشحالېدو- بعضې وخت داسې هم وشي چې فَقِيه پۀ يوه دِيني مسئله کښې وه انښلي نو هغه ټول کال بلکې د 10 کالو پورې بلکې د 20 کالو پورې پۀ هغې غور او فِکر کوي خو بيا ورته هم زړۀ نۀ وهي د دې پورې چې الله پاک هغه پۀ هغې پوهه کړي نو هغه، هغه د الله پاک ډېر لوئ اِحسان او عظيم نِعمت ګڼي او پۀ دې باندې ځان د دولت مندو نه زيات دولت مند او د عزت مندو نه زيات عزت مند ګڼي- (منهاج العابدين، 193)

﴿31﴾ د نِعمت د باقي ساتلو طريقه

تۀ چې کله هم د خبر نه محرومه کېږې نو هم د خپل نفس پۀ وجه به کېږي لهٰذا ښه کوشش کوه د پاره د دې چې د الله پاک د نِعمت قدر وپېژنې او کما حَقُّهُ [يعنې لکه څنګه چې د هغې حق دے] د هغې تعظيم کوه بيا به

تۀ د دې (يعنې نِعمت) اهل شې او بيا به رَبِّ تعالىٰ نِعمت ستا سره پۀ باقي ساتلو سره پۀ تا باندې اِحسان فرمائي- (منهاج العابدين، ص194)

﴿32﴾ د نِعمت د قدر نۀ کوونکي حال

هٰغه بادشاه کوم چې خپل يو غلام له عزت ورکړي، هغه ته خاص جامې واغوندي، خپل قُرب (يعنې نزدې والے) ور عطا کړي او هغه د خپلو خادِمانو سردار جوړ کړي بيا هغه ته پۀ خپله دروازه باندې د موجود اوسېدو حُکم اوکړي او بَل اړخ ته دا فرمان جاري کړي چې دۀ د پاره دې پۀ فلانکي ځائے کښې محلونه جوړ کړے شي، اوچت تَحتونه دې وغوړولے شي، قِسما قِسم خوراکونه دې ورته کېښودے شي، د هغه د پاره دې خادِمان لاس پۀ نامه ولاړ وي د دې پورې چې هغه د بادشاه د خِدمت نه واپس راځي نو هغه پۀ هٰغه محلونو کښې پۀ عزت سره د بادشاه پۀ حبث ايسار کړے شي-

اوس د بادشاه د خِدمت او پخپله د بادشاه جوړېدو ترمينځه د ورځې يو ساعت يا د دې نه هم کم وخت پاتې وي او پۀ هٰغه وخت کښې دا غُلام د بادشاه پۀ دروازه باندې د ځناورو خيال ساتونکے څوک نوکر د ډوډۍ پۀ يوه قطره خوړلو يا يو سپے پۀ هډوکي خوړلو وويني نو د بادشاه خِدمت پرېږدي او د هغوئي پۀ ليدلو کښې مشغول شي او د شاهي اِنعامونو د طرف نه پام بدل شي او د ډوډۍ خوړونکي نوکر طرف ته شي او خپل لاس خوارۀ کړي او د هغه نه د ډوډۍ قطره غواړي يا د هډوکي د پاره د سپي سره جګړه شروع

کړي نو آيا بادشاه که چرې دا اِنسان پۀ داسې حالت کښې وويني نو هغه به دا نۀ وائي چې دې بې وقوفه او بې کاره اِنسان زمونږ د ورکړے شوي عزت حق وه نۀ پېژندو او مونږ چې هغه ته کومې قيمتي جامې عطا کړې، پۀ خپل دربار کښې مو قُرب ورکړو، هغه ته مو خپل د کرم نظر اوکړو او د هغه د پاره مو د دولت ذخيرې او ډېر قِسمه نِعمتونه ورکړل، دے د هغې پۀ قدر او قيمت هډو پوهه نۀ شو، دے خو ډېر جاهل دے او پۀ دۀ کښې د خيزونو پۀ مينځ کښې د فرق کولو هډو تميز نشته، د دۀ نه ټول اِنعامونه او اِکرامونه واخلئ او دے زمونږ د دروازې نه لرې کړئ هم دا حال د دُنيا طرف ته د مائله، پۀ خواهش پسې د روان عبادت ګزار وي حالانکې الله پاک هغه ته عبادت، نِعمت، شريعت او د احکامو پېژندګلو عطا کړه خو هغه د دې پۀ قدر او قيمت نۀ پوهېږي- (منهاج العابدين، ص195)

﴿33﴾ د دنيا مال مُصيبت دے

د دُنيا مال خو يو مصيبت دے پۀ کوم کښې چې الله پاک هر غېر مسلمه، فرعون، بې دِينه او جاهِل او فاسِق اخته کوي کوم چې د هغه د ټولو نه ذليله مخلوق دے او هغه دا بې کاره دُنيا د هر نبي، صِدِّيق او عالِم او عابد نه لرې ساتي کوم چې د هغه بهترين مخلوق دے او بعضې وخت خو د هغه د ډوډۍ قطره او د کپړې يوه ټوټه هم نۀ نصيب کېږي او الله پاک هغه ته

اِحسان وریادوي چې هغۀ، هغه د دُنیا پۀ ګټه ګټنده نۀ کړو- (منهاج العابدین، ص 197)

وضاحت! د حضرت ابو صَفوَان رُعَیني رَحْمَةُاللهِعَلَيْه پۀ خِدمت کښې عرض اوکړے شو چې الله پاک چې د کومې دُنیا پۀ قرآنِ کریم کښې مذمت بیان کړے دے د هغې نه څۀ مُراد دے؟ اِرشاد یې وفرمائیلو: هر هٰغه کار کوم چې تۀ پۀ دُنیا کښې هم د دُنیا د پاره کوې هغه مَذموم (یعنې خراب) دے او هر هٰغه کار د کوم نه چې اخرت (یعنې ثواب) مُراد وي هغه دُنیا نۀ ده- (قوت القلوب، 2/444)

اِمامِ غزالي رَحْمَةُاللهِعَلَيْه لیکلي دي: د ځینو صحابۀ کرامو رَضِیَاللهُعَنْهُم سره مال وو خو د هغوئ مقصد د سوال نه بچ کېدل او [مال] د الله پاک پۀ لار کښې لګول وو- (احیاء العلوم، 3/328) کله چې اِنسان د اخرت د غوره والي پۀ غرض د دُنیا نه څۀ اخلي نو هغه ته به دُنیا دار نۀ وئیلے کېږي بلکې د هغه پۀ حق کښې به دُنیا د اخرت کښت [یعنې پتے] وي- (احیاء العلوم، 3/272) ځکه د حضرت داؤد او سلیمان عَلَیهِما السَّلام پۀ بادشاهۍ او د ځینو صحابۀ کرامو عَلَیهِمُ الرِّضوَان او اولیائے کرامو رَحْمَةُاللهِعَلَيْهِم د مالدارۍ پۀ وجه پۀ هغوئ باندې اِعتراض نۀ شي کېدے-

﴿34﴾ د خپلو نه د عیش او ارام لرې والے

الله پاک حضرت سَیِّدُنا موسیٰ او حضرت سَیِّدُنا هارون عَلَیهِما السَّلام ته وفرمائیل: که زۀ وغواړم نو تاسو ته به داسې شکلا درعطا کړم چې پۀ لیدو به یې فرعون ته پته ولګي چې داسې شکلا د هغه د طاقت نه بهر ده او زۀ

ضرور داسې کولے شم خو زۀ به ستاسو د دواړو نه د دُنيا پۀ لرې کولو تاسو د دې نه بے پروا کړم او زۀ د خپلو دوستانو سره هم داسې کووم، زۀ هغوئي د دُنيا د نِعمتونو نه هم داسې لرې ساتم لکه څنګه چې مهربانه شپونکے خپل اوښان د خاربنې اوښانو نه لرې ساتي، زۀ هغوئي د دُنيا د عيش او ارام نه دې د پاره لرې نۀ ساتم چې د هغوئي زما پۀ نزد هيڅ اهميت نشته بلکې دې د پاره چې هغوئي زما د طرف نه عزت او اِنعام پۀ پوره توګه حاصل کړي- (منهاج العابدين، ص197)

﴿35﴾ دِير لوئي نِعمت

يو ځل رسولِ اَکرم، شاهِ بني آدم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د يو کَس نه دا واورېدل: " اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ عَلَى الْاِسْلَام يعني ټول تعريفونه الله پاک لره دي چې هغه اِسلام را عطا کړو- نو اِرشاد يې وفرمائيلو: بې شکه تۀ پۀ دِير لوئي نِعمت باندې د الله پاک تعريف او حمد کوې-" (شعب الايمان، 4/119، حديث:4498) (منهاج العابدين، ص198)

﴿36﴾ د شُکْر پۀ ادا کولو کښې بهترينه کلمه

منقول دي چې د شُکر پۀ ادا کولو کښې د الله پاک د ټولو نه خوښه او بهترينه کلمه دا ده چې بنده داسې ووائي: اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِيْ اَنْعَمَ عَلَيْنَا وَهَدَانَا اِلٰى دِيْنِ الْاِسْلَامِ يعني ټول تعريفونه د الله پاک د پاره دي کوم چې پۀ مونږ باندې اِنعام وفرمائيلو او مونږ ته يې د دِينِ اِسلام هدايت را عطا کړو- (منهاج العابدين، ص198)

﴿37﴾ د دِين قدر کوئ

حضرت سَيِّدُنا سُفيان ثَوري رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه به فرمائيل: څوک چې پۀ خپل

دِين باندې بې وېرې وي د هغه نه به دِين اخستلے کېږي- (منهاج العابدين، ص 198)

﴿38﴾ د اِيمان د حفاظت دعا

حضرت اِبراهيم بِن اَدهَم رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه به فرمائيل: تاسو څنګه بې وِېرې کېدے شئ حالانکې حضرت سَيِّدُنا اِبراهيم خَلِيلُ الله عَلَيْهِ السَّلَام د خپل رَبّ په دربار کښې (د ډېرې عاجزۍ او اِنکسارۍ د پاره) دُعا اوکړه حضرت سَيِّدُنا يُوسُف عَلَيْهِ السَّلَام دُعا اوکړه: ﴿تَوَفَّنِيْ مُسْلِمًا﴾ (پ13، سورۂ يوسف: 101) [مفهوم] ترجمۂ کنزُ العِرفان: " ما د اِسلام په حالت کښې راپاڅوې-" حضرت سَيِّدُنا سفيان ثَوري رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه به همېشه دا دُعا کوله: " اَللّٰهُمَّ سَلِّمْ سَلِّمْ يعنې اے الله پاکه! سلامتي را عطا کړې، سلامتي را عطا کړې-" داسې به ښکارېدله چې ګويا هغوئ په کشتۍ کښې دے او د ډوبېدو وېره ده- (منهاج العابدين، ص199)

﴿39﴾ چرته اِسلام مې د لاسه لاړ نۀ شي!

حضرت سَيِّدُنا محمد بن يُوسُف بن اسباط رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه بيانوي چې يو ځل ما حضرت سَيِّدُنا سُفيان ثَوري رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ټوله شپه په ژړا وليدو نو عرض مې اوکړو: تاسو په ګناهونو باندې دومره ژاړئ؟ هغوئ يو خسنے راواخستو او وه يې فرمائيل: ګناه خو د الله پاک په نزد د دې خَسَنې نه هم ډېره معمولي ده، زۀ خو په دې خبره باندې ژاړم چې هسې نۀ الله پاک زما نه اِسلام وانخلي- اَلعِيَاذُ بِالله (د الله پاک پناه-) (منهاج العابدين، ص199)

﴿40﴾ نا شُکرۍ دوب کړو

يو عارِف بِالله (يعني د الله پاک پېژندګلو لرونکے) بزرګ رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه بيانوي چې يو نبي عَلَيْهِ السَّلَام د الله پاک نه د بَلعَم بِن باعُورا پۀ باره کښې پوښتنه اوکړه چې هغه د دومره عزت او شان نه پس څنګه مردود شو؟ نو الله پاک اِرشاد وفرمائيلو: څۀ چې ما هغه له ورکړي وو پۀ هغې باندې هغه يوه ورځ هم زما شُکر ادا نۀ کړو، که هغه يو ځل هم زما شُکر ادا کړے وے نو ما به د هغه نه خپلې عطاګاني واپس نۀ وے اخستې- (منهاج العابدين، ص199)

﴿41﴾ پۀ يو کال کښې د کمال مرتبه

حضرت بي بي رابِعه بَصريه رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْها د زيات عمر والا وينزه (يعني خادِمه) وه، هغه به د بصرې پۀ بازار کښې ګرځولے شوه خو د زيات عمر پۀ وجه چا هغه نۀ اخستله- بيا د يو سوداګر پۀ هغې باندې رحم راغلو او هغه يې پۀ 100 درهمه واخستله او ازاده يې کړه- حضرت رابعه بصريه رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْها د اخرت لار اِختيار کړه (يعني شپه ورځ به پۀ عبادت کښې مصروفه وه) لا يو کال هم نۀ وو تېر شوے چې د هغې د مقام او مرتبې پۀ وجه د بصرې پۀ عالمانو او مشائخو کښې هغه مشهوره شوه- (منهاج العابدين، ص203)

﴿42﴾ د حضرت عمرِ فاروق رَضِیَ اللهُ عَنْهُ ارمان

د مسلمانانو دوېم خليفه، حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللهُ عَنْهُ د چا نه دا آيت مبارک واوربدو: ﴿هَلْ اَتٰى عَلَى الْاِنْسَانِ حِيْنٌ مِّنَ الدَّهْرِ لَمْ يَكُنْ شَيْـًٔا مَّذْكُوْرًا ۝﴾ (پ29، سورۂ الدَّهر:1)

[مفهوم] ترجمۂ کنزُ العِرفان: ” يې شکه پۀ اِنسان يو وخت هٰغه هم تېر شو چې هغه څۀ قابلِ ذِکر څيز نۀ وو-“ نو اِرشاد يې وفرمائيلو: کاش چې دا حالت هم داسې پاتې وے (اِنسان نۀ پيدا کېدے او نۀ پۀ پابندو کښې راتللے) (منهاج العابدين، ص205)

﴿43﴾ اِنسان نادان دے

حضرت سَيِّدُنا وَهب بن مُنَبِّه رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: اِنسان نادان پيدا کړے شوے دے که چرې پۀ اِنسان کښې ناداني نۀ وے نو چرې به يې هم د ژوند نه خوندونه نۀ اخستل- (منهاج العابدين، ص205)

﴿44﴾ قابل رشک څوک؟

حضرت سَيِّدُنا فُضَيل بن عِياض رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: ما له د لوئي نه لوئي نېک بنده باندې هم رَشک نۀ راځي، آيا دا خلق به د قيامت وحشتونه نۀ وينې؟ ما له خو رَشک پۀ هغوئي راځي کوم چې هډو پيدا شوي نۀ دي - (منهاج العابدين، ص205)

﴿45﴾ د هيڅ نۀ کېدو خوشحالي

حضرت سَيِّدُنا عطا سُلَمي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: که چرې وور لـمبه کړے شي او ووئيلے شي چې ” څوک پخپله دې ته ځان وغورځوي هغه به هيڅ هم نۀ پاتې کېږي (يعني هغه به کالعدم شي، د هغه سره به پۀ اخرت کښې هيڅ حساب کتاب نۀ کېږي-)-“ نو زما سره وپره ده چې دې ته د رسېدو نه مخکښې زۀ د خوشحالۍ پۀ وجه مړ نۀ شم- (منهاج العابدين، ص205)

﴿46﴾ د خلاصي لاره

اے اِنسانه! د دُنيا نه د اِيمان سلامت وړلو معامله ستا د وهم او ګمان نه هم زياته سخته او لويه ده خو ډۀ تقديرِ اِلٰهی کښې دا مقدر جوړ شوے دے او د دې تدبير فرمائيلو والا غالب عِلم والا دے، د بنده د پاره د خلاصي لاره هم دا ده چې " **هغه ډۀ بندګی (يعنې عبادت) کښې ټول کوشش اوکړي، د اللہ پاک رَسی مضبوطه ونيسي او د اللہ پاک ډۀ دربار کښې ژړېږي (يعنې عاجزي او اِنکساري کوي)، اُمېد دے چې اللّٰهُ الرحمان ډۀ هغه باندې رحم اوکړي او ډۀ خپل فضل سره د هغه سلامتيا نصيب کړي۔**" (منهاج العابدين، ص205)

﴿47﴾ د جَنَّت قدر او قيمت

د هٰغه کَس به څۀ حال وي کوم چې ډۀ همېشه پاتې کېدونکي جَنَّت کښې لوئي سلطنت غواړي، آيا هغه د اللہ پاک د پاره دوه رکعته کول يا دوه درهمې لګول يا دوه شپې عبادت کول ډېر لوئي کار ګڼي؟ هيڅکله هم نۀ، بلکې که د هغه 10 لاکهه وجودونه، 10 لاکهه رُوحونه او 10 لاکهه ژوندونه وي او هر ژوند د دُنيا د عمر همره وي نو بيا هم که هغه ټول ژوندونه ډۀ دې ښکلي مطلوب (د اخرت سلطنت) کښې ولګوي نو بيا هم لږ دے- بيا که چرې د هغې نه پس ډۀ خپل مطلوب او مقصود کښې کاميابي نصيب شي نو دا ډېر لوئي غنيمت او د اللہ پاک د طرف نه ډۀ هغه ډېر لوئي فضل دے- (منهاج العابدين، ص207)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

د راتلونکي هفتي رساله



فیضانِ مدینہ، محلّہ سوداگران، زیرہ سبزی منڈی کراچی
UAN +92 21 111 25 26 92 0313-1139278
www.maktabatulmadinah.com / www.dawateislami.net
feedback@maktabatulmadinah.com / ilmia@dawateislami.net